# An Analysis of Poetry of Swat's Afsana

Muhammad Ali Dina Khel [1]

**Abstract**: Swat has its own literary tradition in the history of Pashto literature. Prominent literary works of Pashto literature produced in Swat. Women writers and poetesses of Swat have also contributed to Pashto poetry. Among them one Pashto poetess from Swat is known as Afsana. She has an unpublished manuscript of her poetry. She burnt her early poetry on account of social and cultural restrictions. Later on her husband burnt her (manuscript) dewan because it was against his honor that she was writing poetry. The current manuscript of her poetry was preserved by her brother and nephews. In this article manuscript of her dewan has been introduced and analyzed. Efforts have also been made to write about her family, children, education, poetry and life from the internal evidences of the dewan.

**Keywords**: Swat, Women Writers, Pashto Poetry

په دې مقاله کښې په پښتو شاعرۍ کښې د ښځو د شاعرۍ د روایت او په سوات کښې د ښځو د شاعرۍ د روایت د لنډ ذکر نه وروستو د افسانې په دیوان، قلمي نوم , تخلص، تعلیم، کور کلي، وادهٔ، عمر، اولاد او په شاعرۍ بحث شوے دے ۔ په شاعرۍ د بحث د سرخط لاندې د هغې د شاعرۍ په شعري صنعتونو لکه په شعر کښې متل او تلمیحات، په شعري اصنافو، او د شاعرۍ په موضوعاتو بحث شوے دے ۔ د افسانې د شاعرۍ په موضوعاتو کښې د پښتو ژبې ذکر، عدالتي نظام، ډاکټران، مزدور،د پښتونخوا معدنیات او وسائېل، د وطن مینه، کلي والې جینکۍ، د ښار جینکۍ، غرئیزې پېغلې، کلي واله زندګي، ګودر ، عشقیه شاعري، د اسلافو ذکر، او معمې یا سوال و جواب وغېره موضوعات شامل دي ۔ په دې مقاله کښې د افسانې د شاعرۍ د بعضي نمونو تدوین هم شوے دے ۔

# 1 په پښتو ادبي تاریخ کښې د ښځو د شاعرۍ روایت

د پښتو تحریري ادب خو ټول محفوظ نهٔ دے نو سړے دا فېصله نهٔ شي کولے چې د ښځو د شاعرۍ برخه پکښې څومره ده ۔ په فوکلوري ادب کښې خو زیاته برخه د ښځو ده ۔[1, p3] په

[1]Area Study Centre, University of Peshawar, Peshawar, Pakistan

تحريري ادب کښې وړومبۍ معلومه ښځه شاعره مېرمن زرغونه ده ۔ دا د ملا دين محمد کاکړ لور او د سعدالله جان نورزي ښځه وه ۔ د دې زمانه نهمه صدۍ هجري ده ۔ دې د خپل پلار نه زدکړې کړې وې او د فصحاؤ شعرونه ئې لوستلي وو. هغې د شېخ سعدي د کتاب بوستان په پښتو کښې منظومه ترجمه د"بوستان د پښتو" په نوم کړې وه ۔[2, p19] پټه خزانه چې د پښتو وړومبۍ تذکره ده، پکښې د شپږو ښځو شاعرانو ذکر راغلے دے ۔[2, pp176-194] په کلاسيکي زمانه کښې د ښځو شاعرانو نه علاوه په نوي دور کښې يعني په شلمه صدۍ کښې په پښتو زنانو شاعرانو کښې وړومبے نوم د سېده منصفه راځي ۔ دا د سوډېر کلي په کاکاخېل خاندان کښې د اعتکاف الدين په کور کښې په کال ۱۹۰۶ کښې پېدا شوې وه ۔ بيا وروستو دوبيانو کلي ته وادهٔ شوې وه ۔ ديوان ئې په کال ۱۹۸۴ کښې چاپ شوے دے ۔ [1, p172]

## 2 د سوات په ادبي تاريخ کښې د ښځو د شاعرۍ روايت

په سوات کښې د ښځو د شاعرۍ روايت پخوانے دے د کوم تصديق چې د فوکلور نهٔ کېږي ۔ تر کومه حده چې په سوات کښې د ښځو د تحريري ادبي روايت تعلق دے نو دا دومره زوړ نهٔ دے ۔ ځکه چې په لاس داسې مواد نهٔ راځي ۔ وجه ئې دا ده چې په هغه وختونو کښې د ښځو د پاره شاعري کول د ټولنيز رواج او کلتور خلاف ګڼلے کېدل ۔ خو د دې هر څه باوجود بيا هم داسې کورنۍ په سوات کښې موجودې وې چې هغوي په څه نه څه حواله د خپلې کورنۍ د ليکوالو زنانو حوصله افزائي کړې ده او بيا ئې ورله ليکونه محفوظ کړي هم دي ۔ په دې حواله چې کوم د ګوتو په شمار د يو څو ښځو شاعرانو او ليکوالانو نومونه او تحريري اثار په نظر راځي په هغوي کښې په وړومبي دور کښې د بخت پري او مهرالنسا بانونومونه راځي ۔ بخت پري په ۱۹۲۷ کښې په سېدو شريف کښې پېدا شوې ده ۔[3, p349] دا په ۲۱ دسمبر ۱۹۷۹ کښې په سېدو شريف کښې وفات شوې ده ۔[3, p351] د بخت پري د شاعرۍ قلمي نسخه ``د بخت پري سوغات" په نوم زما (ديناخېل) په ذاتي کتابتون کښې محفوظه ده ۔ په دوېم ګروپ کښې د سعيده لائق ام وسيم[4, p49] او بي بي فاطمه[4, p72] نومونه راځي ۔ د سوات د پښتو ادب په يويشتمه پېړۍ کښې چې د کومو زنانه شاعرانو کتابونه چاپ دي په هغوي کښې د کشره بېګم دوه شعري مجموعې `` نيمګړے ژوند"[5] او ``يادونه"[6] او د مختيار بېګم ``د ارمان چغه"[7] شامل دي ۔ د سوات د ښځو ليکوالانو او شاعرانو په ادبي روايت کښې يو اهم نوم د افساني دے ۔ په دې مقاله کښې د هغې د ديوان په قلمي نسخه، ژوند او شاعرۍ بحث کېږي ۔

# 3 د افسانې ديوان

د افسانې د ديوان د قلمي نسخې يو نقل په ۳۱ جنوری ۲۰۱۵ ما ته په مينګوره کښې د ميا خورشېد نه په لاس راغے ـ دا قلمي نسخه ټول ۱۶۵ مخونه لري ـ زما په ملکيت کښې چې د دې قلمي نسخې کوم نقل موجود دے، په دغه نقل کښې درې مخونه د نقل نه پاتې شوي دي ـ هغه مخ نمبر ۳۴، ۱۰۳ او ۱۰۴ دي ـ زما سره موجودې قلمي نسخه کښې مخ نمبر ۳۷ دوه ځله نقل شوے دے ـ يو ځل دا صفحه په خپل ځاے ده او دوباره د قلمي نسخې په اخره کښې بائنډ شوې ده ـ زما سره د موجودې قلمي نسخې ته د ګتې جلد بندي شوې ده ـ د قلمي نسخې په شروع کښې د متن نه وړاندې يوه خالي پاڼه ده ـ په دې قلمي نسخه کښې د مخ نمبر ۵۸ پورې متن د پاڼې په يو مخ نقل شوے دے او دويم مخ ئې خالي دے ـ او د مخ نمبر ۵۹ نه وړاندې د هرې پاڼې په دواړه مخونو متن نقل شوے دے ـ خو د اخري پاڼې په وړومبي مخ نمبر ۱۶۵ باندې متن نقل شوے دے او د دغه پاڼې بل مخ خالي دے ـ او د دې نه وروستو په اخره کښې مخ نمبر ۳۷ دوباره لګولے شوے دے ـ د يادونې وړ ده چې ليکوالي دې خپلې شعري مجموعې له څه نوم نۀ دے اېښودلے خو د ټولې مجموعې رديف قافيه د الفبائي ترتيب سره ده نو ځکه ما مناسب وګڼل چې دې کتاب له د افسانې ديوان نوم ورکړم ـ په ټول ديوان کښې رديف وار د الفبا ترتيب داسې ورکړے شوے دے : ا ب ت ټ ث ج چ ح خ د ډ ذ ر ړ ز س ش ښ (کښ) ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن و ه ي ے ـ ټول ديوان د حروفو په دې ترتيب سره دے خو لسم او يولسم مخ ترتيب غلط شوے دے ـ

د قلمي نسخې شروع د بسم الله الرحمان الرحيم نه شوې ده ـ "بيان يا تعارف په زبان د مصنف" د سرخط لاندې په څلورو مخونو مشتمله ديباچه د ليکوالې شاعري پخپله ليکلې ده ـ په دې ديباچه کښې ليکوالې د خپل ژوند، خاندان اود خپلې شاعرئ په حقله خبرې کړې دي ـ

د ليکوالې خپل نوم افسانه نۀ دے بلکې دا ئې د قلمي نوم يا تخلص په حېث کارولے دے ـ په دې حقله هغې د خپل ديوان په ديباچه کښې ليکلي دي چې ما د خپلو شعرونو وړومبۍ مجموعه ځکه وسېځله چې ما نۀ غوښتل چې زما نوم دې په يو کور يا يو محفل کښې افسانه شي ـ د خپل قلمي نوم او تخلص باره کښې په خپلواشعارو کښې داسې وائي ـ

نوم مې بل دے افسانه واېمه ځان ته

افسانه مې دلته ځکه دے ليکلے [8, p133]

د افسانې نه افسانه جوړه شوه

د افسانې په اوربدل څه کوې[8, p8]

ما چې نوم د افسانې دے په ځان اېښے
په معنا ئې پوهه شوے ټول جهان دے
افسانې چې افسانه وي نۀ ختمېږي
نۀ وچ شوے سمندر او نۀ سيحان دے[8, p139]

افسانې که ئې د سوات جينکۍ اخلي
بېش بها در دې بهر کړه د صدفه[8, p72]

ما خو سوال د شعر نۀ وۀ کړے خدايه
افسانه کړه ما نه جوړه خپل قسمت[8, p12]

افسانه مې تخلص د شاعرۍ دے
په بدلو دستخطونو کړم دستخط[8, p42]

خلق ما ته افسانه وائي که نۀ وائي
ځان ته واېمه پخپله افسانه زۀ[8, p87]

تخلص مې افسانه ده
نوم مې بل دا مې بهانه ده[8, p155]

هغې په خپله شعري مجموعه کښې د افسانې نه علاوه سانه تخلص هم کارولے دے ـ سانه په اصل کښې د افسانې لنډ شکل دے چې په شعر کښې د وزن او بحر د برابر ساتلو د پاره ئې کله دا تخلص کارولے دے ـ لکه په لاندينوا شعارو کښې چې ښکارېږي ـ

د وخت زرګر به د سانې شعر سونا شانې کا
تاريخ به جوړ کړي د سرحد پېغلو ته هار که څه[8, p73]

د ساني شعر خو واړه حقيقت دے
ځني ځني که خيالي وي پرواه نشته[8, p76]

د ساني ارمان به وکړے وخت به تېر وي
چې ئې خاورې ګل بدن شي ته به څه کړې[8, p136]

د دې نه معلومه شوه چې هغې خپل نوم ښکاره کول نۀ غوښتل او ځانله ئې يو فرضي نوم "افسانه" خوښ کړو او هم دغه نوم ئې د تخلص په توګه وکارولو ـ که کله کله هغې د تخلص په ځاے "سانه" نوم ليکلے دے نو دا محض د شعر د وزن برابر ساتلو د پاره ـ

## 4 تعليم

د خپل ديوان په ديباچه کښې افسانې د هغه وخت د جينکو د تعليم په باره کښې ليکلي دي چې سرمايه دارو خلقو به خپلې لوڼه د کلي د يوې ماهرې زنانه استاذې په حواله د قران پاک تعليم ته داخلې کړې ـ[8, p1] په ديوان کښې چې د خپل ژوند قيصه کوي نو هلته د هغه زمانې د جينکو د تعليم د حالات او د خپلو زدکړو قيصه داسې کوي ـ

دا فکرونه به کول مې روز و شب
ما به وې چې شوے داخله په مکتب
خو حيا راتله د خپلو مشرانو
راز د زړۀ مې ظاهر نۀ کړو سامعانو
هغه وخت د زمانې داسې دستور وۀ
چې هغه دستور په کل وطن مشهور وۀ
چا به نه کاوۀ تعليم په خور او لور
نۀ غم د مستقبل نۀ د شعور
اکثر خلقو به پښتو قيصې وئيلې
سامعانو به په مينه اورېدلې
دا دستور د زمانې ډېر عجيبه وۀ
قيصه خوان به د قطب په مرتبه وۀ

په حجره به کښېناستل زاړهٔ ځوانان
ډېر عزت به ئې کوو د قيصه خوان
نهٔ ريډيو ، نهٔ ټيليويژن او نهٔ ټېپ وهٔ
د پښتو په قيصو ډک د هر چا پيټ وهٔ
يوه ورځ کتب فروش راغے کوټې ته
اے سامعه راشه غوږ اونيسه دې ته
ما ترې واخستهٔ کتاب رشيدالبيان
خپلې مور نه مې شروع کړو هغه آن
نورنامې معراج نامې به مې لوستلې
زما عقل ته به دا ښې ښکارېدلې
مونږ کره د الپورئ حافظ ديوان وهٔ
بل کتاب هغه په شعر د رحمان وهٔ
د خوشحال خټک ديوان به مې کتل
فتاوه ودوديه به مې لوستل
د انوار سهيلي يو غټ کتاب وهٔ
د عبرت د عقل ډک ئې هر يو باب وهٔ
کتابونو کښې به زه وومه مشغوله
ووم فارغه د تمام جهان د نوله[8, pp158-160]

د دې نه پته لګي چې هغې د خپلې مور نه مختلف کتابونه وئېلي دي چې پکښې رشيدالبيان، انوار سهيلي، د حافظ الپوري ديوان، د خوشحال خان ختک ديوان، د رحمان بابا ديوان او مختلف روماني داستانونه شامل دي ـ اګر چې هغې غېر رسمي زدکړې کړې وې او د پښتو کلاسيکي ادب ئې لوستلے وهٔ خو بيا هم ځانته بې تعليمه ځکه وائي چې رسمي زدکړې ئې نهٔ وې کړې ـ

بې تعليمه پښتو ژبې افسانه يم
جوړومه افسانه نومې کتاب[8, p9]

افسانه خو بې تعلیمه پښتنه ده
په زنانو کښې ئې نشته څوک حریف[8, p47]

هغې ته دا پته وه چې په زنانو کښې لیکوالاني او شاعراني ډېرې کمې دي نو ځکه که هغه بې تعلیمه ده او شاعري کوي نو بیا هم په زنانو کښې هغې ته خپل حریف په نظر نه راتلو ۔

## 5 کور کلے

افساني د سوات د شاهدرې کلي سره تعلق لرلو ۔ په بېلا بېلو شعرونو کښې ئې د سوات او د خپل کلي شاهدرې ذکر کړے دے ۔

د سوات پېغلې به ټولې کړي سر ښکته
افساني قلم د شعر خنجر ونیو[8, p70]

او بل ځاے داسې وائي ۔

زۀ سپده سیاله یم سوات کښې مې سکنه ده
نوم مې افسانه ده ځاے مې شاهدره ده[8, p71]

افسانې د سېدانو د کورنۍ سره تعلق لرلو نو ځکه ئې په خپل دې شعر کښې د خپل سیادت ذکر هم کړے دے ۔

## 6 وادۀ

د خپل وادۀ په باره کښې ئې لیکلي دي چې "هر کله چې زۀ د خپل پلار د کوره بل کور ته په سره ډولۍ کښې لاړم ۔ هغه سره ډولۍ نۀ وه بلکې د اور سرې لمبې وې ۔ خو د دنیاوي اور لمبې نۀ بلکې د جهنم لمبې وې ۔"[8, p1]

## 7 عمر

د دې دیوان د ترتیب په وخت کښې د هغې عمر شپېته کاله وۀ ۔[8, p2] هغې د خپل شپېته کاله عمر ذکر په دې شعر کښې کړے دے ۔

عمر ساټ ساله شۀ پکښې یو مراد حاصل نۀ شۀ
ولې نۀ پوهیږې اے زړګیه ته نور څه غواړې[8, p130]

په نورو شعرونو کښې ئې هم ځاے په ځاے د خپل زيات عمر او د بدن د کمزورتيا خبره کړې ده ـ لکه د غاښونو د وتلو او د وېښتو د سپينېدلو ذکر ئې کړے دے ـ د دې نه پته لګي چې په بوډۍوالي کښې ئې هم شاعري کړې ده ـ

## 8 اولاد

د افساني شپږ بچي وو- [8, p2] په شاعرۍ کښې ئې د دوؤ ځامنو ذکر ډېر کړے دے ـ د هغې يو ځوے چې د ګاډي په يوه حادثه کښې وفات شوے وۀ د هغه باره کښې ئې هم ژړا فرياد د شاعرۍ برخه ده ـ

خدائے راکړے يو فرزند په مخ قمر وۀ
هر ديدن به ئې په ما باندې اختر وۀ
زمانې که به په زړۀ راکړه داغونه
په ليدو به د هغه کم شو دردونه
خوشحالي زما د زړۀ وه هغه ګل
اميدونه وو زما د مستقبل
که ئې لس صفته وکړم سل به نور وي
خپل بچے هر چا ته ښکلے وي که تور وي
لنډه دا چې يوه ورځ لاړ شۀ بهر
د بازار په مينځ کښې وواهه موټر[8, p162]

د افساني يو بل ځوے چې په څه وجه د مور او د کور نه خفه شوے وۀ او بيا ټول عمر د مور نه لرې وسيدلو د هغه جدائي ئې هم د شاعرۍ په اهمو موضوعاتو کښې شامله ده ـ

اے زما ماشومه اے زما نادانه نۀ پوهېږې
ولې دې ضعيفه مور د غم په اور سېزې
ستا په جدائي مې داسې زړۀ پرې پرې
څنګه چې پرتې وي په تالي کښې خربوزې[8, p131]

ښنګه لوئے شوې ښنګه لاړې ښنګ دې پرېښودم تنها زۀ
اے ګل رخه تا سره به چرته یو ځاے شمه بیا زۀ[8, p153]

خبر دے ته چې هر ځاے ئې خوشحاله اوسې
بهره مند په دوجهان شې په نصیب
دشمنان دې خوار خسته او زبون حال شه
سربالا شې په حرمت د پاک حبیب
ستا دیدن مې د زخمي زړګي علاج دے
په دارو مې صحت نه شي د طبیب[8, p9]

چې په خبر سره دې عمر چوده سال شۀ
په نصیب دې شو د ښهر اوسېدل
ته په ښهر زۀ په جونړ بانډه شوم پاتې
ما نه ښۀ دي لېوني د تور ځنګل
سر مې سپین غاښ مې ختلي سترګې تتې
نن سبا ما له راتلونکے دے اجل
ستا د غمه به ړنده شم اے بچیه
نیمه خوا به را نه پاتې شي لیکل
افسانې قسمت دې داسې چارې وکړې
کته باز چې درنه والوت د منګول[8, p53]

افسانې بهار به هله خوندور شي
که ګلرخ بچے مې کورته دوبار راغے[8, p134]

سپرلے څه بلکې بې شمېره سپرلي تېر شو

افسانه په ړندېدو شوه ته را نهٔ غلې[8, p149]

دغه ځوے چې په تنکۍ ځوانۍ کښې د کوره وتلے دے نو ټول عمر د بوډۍ توب پورې دې د دغه ځوي غم او پرېشاني هېره نهٔ کړه بلکې په هر وخت او په هر حالت کښې ئې يادوي ۔

## 9 خويندې وروڼه

د افسانې يو مشر ورور وهٔ او دوه ئې خويندې وې ۔ افسانې د خپل ديوان د ديباچې په اخر کښې ليکلي دي چې مونږ د خپلې مور ځلور بچي يعني درې خويندې، يو مشر ورور د خپلې مورنۍ ژبې پښتو ادبي ځانګې شاعران يو ۔ کشران زمونږ موجود درې کسان خورشېد، فضل رشيد، او احمد زېب بهترين شاعران دي ۔[8, p4] په لاندينو شعرونو کښې ئې د خپلو خويندو وروڼو نومونه بيان کړي دي ۔

نه به بيا په خندا لرې دروازه شي
نه به بيا شي رانه زار سکينه خور
نه به بيا مې مشر ورور غاړه تازه کړي
نه به بيا شي رانبکاره هغه غمخور
نه به بيا مې خور بي بي نورجهان راشي
نه به بيا شي دا زما د زړهٔ ټکور
نه به بيا زما نيازبين بچے ژوندے شي
نه به بيا شي دے زما د سترګو تور
نه به بيا هيرا بي بي په دنيا راشي
نه به جوړ کړي خپلې مور ته شور مشور۔[8, p27]

د افسانې د خاندان اکثر غړي شاعران او ليکوالان دي ۔ په يو بل ځاے کښې د خپل خاندان د شاعرانو ذکر داسې کوي ۔

د شاعر د کلام قدر په شاعر وي
ان پړان کله پوهېږي په دې پند
يو اديب شاعر چې نام ئې ميا خورشېد[4, p446] دے

میا افضل رشید ئې ورور دے عقل مند
دریم ورور ئې په نامه میا احمد زیب دے
په صفحو به غور وکړي دانشمند
په کلام کښې که غلطي وي دوي دې چاڼ کړي
لکه چاڼ چې غنمو نه شي ګند
دا کتاب دے حواله فضل رشید ته
افسانه وائي که جوړ کړي ورله خوند[4, p157]

د دې نه پته لګي چې د افساني په خاندان کښې ښۀ لیکوالان شاعران او ادیبان موجود دي ـ د کومو ذکر چې هغې په خپلو شعرونو کښې ځاے په ځاے کړے دے ـ

# 10 د افسانې شاعري

افسانې د خپلې شاعرۍ، د دې دیوان او د خپل تعلیم په حقله د دې دیوان په دیباچه کښې داسې لیکلي دي ـ

چې دا کتاب ما لیکلے دے زما د کل حالاتو موضوع ده ـ یا به شاعري وي یا به قافیه برابرول وي ـ یا به ښۀ وي یا به نه وي ـ څوک به څه وائي خو دا زما د خیالاتو اظهار دے او دا زما 'امانت' دے ـ سوال دے چې خیانت نۀ شي ـ ښۀ به نۀ وي ـ ځکه چې ما خو څه تعلیم نۀ دے کړے ـ خو د خپلې پښتو ژبې ادبي کتابونه یا قیصې مې کتلي دي ـ دا ما د هغې نه زده کړي دي ـ [8, p2]

افسانې چې په خپل وړومبي دور کښې کومه شاعري کړې وه نو هغه ئې د دې وېرې اور ته واچوله چې هسې نه د هغې نوم په یو کور یا یو محفل کښې افسانه شي ـ[8, p2] افسانه لیکي چې د هغې مشر ورور عبدالرشید رشید چې یو ماهر شجره دان وۀ، هغه د هغې د شاعرۍ نه چې کله خبر شۀ او د هغې د خاوند نه ئې پټه دغه شاعري ولوستله نو ډېر خوشحاله شۀ او هغې له ئې حوصله افزائي وکړله ـ افسانې لیکلي دي چې د هغې دوه نورې خویاندې هم شاعرانې وې ـ په خاندان کښې د نورو شاعرانو ذکر ئې هم کړے دے چې پکښې د هغې ورارۀ د میا عبدالرشید ځوے فضل رشید رشید، یو بل ورارۀ سېد میا احمد زېب او یو خورائے میا خورشید شامل دي ـ کله چې افسانې خپل ورور میا عبدالرشید رشید ته د خپلې شاعرۍ مجموعه ورکړه نو هغه ورته داسې ووئېل ـ

قافیې یا الفاظ دې ښکلي دي ـ خو موضوع دې صرف د خپل زړۀ براس دے ـ شاعري دې ته نۀ وائي ـ په دې کښې هر قسم تبدیلي وي ـ په دې کښې اتویشت ټکي عربي، او د پښتو

الفاظ (؟) لکه ژ ک ړ ټ چ ځ ډ ښ (ښ) نرے (ڼ) ښ او بهار، خزان، وطن، زمکه، اسمان، غر، ځنګل، بانډه، کلے، شهر او کائنات ټول پکښې بند کړه ـ یعني رواج، قانون، شریعت، ملک وقام، مزدور، ګودر، نظم، نعت، قطعه، غزل، رباعي ټول په ادب کښې راوله ـ او د تېرې زماني واقعات حالت او د موجوده وخت حال تول پکښې راګېر کړه ـ [8, p3]

افسانه لیکي چې ما د خپل وړور په ښودلي شوي ترتیب پنځوس پاڼې دیوان د خپل ژوند د ملګري نه په پټه او احتیاط برابر کړۀ ځکه چې هغه ډېر نازک مزاج، جابر او غصه ناک وۀ ـ هغه زما د شاعرۍ د لیکلو نه بالکل خلاف وۀ ـ وائي چې

هغه یوه ورځ بې وخته کور ته راغے ـ ما دستي کتاب پټ کړۀ ـ قلم مې په ګوتو کښې او چشمې په سترګو وې ـ درې واړه زامن مو کور وو خو هغه شک من شۀ ـ زۀ منکره شوم خو هغه د بسترې د لاندې نه کتاب راوویستلو ـ او په ما پسې ئې ټوپک راواخست ـ کتاب ئې بل اور ته ورواچوۀ ـ په دې وخت کښې زما مشر ځوي په څه چل هنر اته پاڼې بچ کړے وې بیا وروستو ئې ما له راکړې ـ [8, p3]

د افسانې دخاوند طبیعت داسې وۀ چې دا خبره ورته ډېره ګرانه وه چې افسانه دې شاعري کوي نو ځکه ئې په هغې د شاعرۍ پابندي لګولې وه ـ د خاوند د طرف نه په شاعرۍ د پابندۍ ذکر ئې یو ځاے کښې داسې کړے دے ـ

صاحبان مې شاعري بندول غواړي
لکه غواړي بند د شکو سمندر ته[8, p75]

او یو بل شعر کښې ئې داسې وئیلي دي ـ

توره په لاس په سر د پاسه دې جلاد ولاړ دے
افسانې چپ د شاعرۍ [2] په لاره مه تېرېږه

په اول کښې پخپله هم افسانې ته شاعري کول د شرم یو کار ښکارېدلو او هم دغه وجه وه چې یو ځل ئې خپله ټوله موجوده شاعري پخپله وسېزله وجه ئې دا وه چې هغې نۀ غوښتل چې زما د شاعرۍ نۀ دې خلق خبر شي او بیا دې په محفلونو کښې زما د شاعرۍ ذکر کېږي ـ کله چې ئې خپله شاعري په خپل لاس وسېزله نو د هغې په حقله داسې وائي ـ

شاعري ما ته غټ جرم ښکارېدلو
دا کتاب ځکه په پټه مې ساتلو
په ساتلو د کتاب چې شومه تنګه

[2] په دیوان کښې یې د شاعرۍ په ځائے شاعرو لیکلے دے ـ

ما په اور کښې وسېزله هغه پنګه[8, p161]

لکه چې مخکښې بیان شوي دي چې د هغې خاوند دا نۀ خوښوله چې هغه دې شاعري کوي . او دغه رنګ به هغې د خپل خاوند نه پټه شاعري کوله . کله چې د هغې خاوند د هغې د شاعرۍ نه خبر شو نو تیار دیوان د شاعرۍ ئې ورله په تنور کښې واچولو او وئې سوځولو . د خپلې شاعرۍ د خپل خاوند په لاس د سېزلو دا واقعه ئې په شعر کښې په خپل دیوان کښې داسې بیان کړې ده .

اور دې پورې کړۀ زما د زړۀ په سر
ځکه جوړ مې شو داغونه په ځیګر
تا چې اوسېزۀ کتاب زما د شعر
لکه زۀ دې کړم لاهو په سمندر
ما وې فخر به په دې کتاب کوې ته
هغه فخر تا بدل کړه په ضرر
داسې بد به څوک د چا سره ونکړي
لکه تا ما سره وکړه سراسر
موضوعات مې د غم وو غم کښې شو پاتې
په تدبیر کله بدلیږي مقدر
افسانې د دنیا کومه ستړې ژاړې
چې تعداد ئې د شمېرلو دے بهر [8, p27]

یو بل ځاے کښې د خپل دغه سوځولي شوي دیوان په حقله داسې وائي .

هغه لیکل، جمع کول د افسانې ایره شو
د مرثیو نه ډک پنځوس پاڼې دیوان څه شۀ[8, p89]

د دې واقعې نه وروستو چې کله د افسانې ورونو د هغې د "صاحب" سره دا خبره وکړه چې دا به ضرور شعر لیکي خو افسانه وائي چې ما د خپل خاوند د زړۀ د پاره ظاهري انکار وکړۀ . هغه وائي چې صبرېدم نۀ او پټ په پټه مې دربم کتاب شروع کړۀ .
دا کتاب زما مشر ورور زما د زامنو په مرسته د ځان سره ساتلو . هره ورځ پاڼې به ئې زما نه وړلې او کتاب ته به ئې خېژولې . د وخت په مرسته په دې طریقه ما کتاب راجمع کړۀ .[8,

[p4
د دې دومره سختو او تکليفونو باوجود هغې ته دا پته وه چې زما شاعري به زما د مرګ نه وروستو خلقو ته ورسي او خلق به زما د حالاتو نه خبر شي ۔ لکه ئې چې په يو شعر کښې وئيلي دي ۔
مړه به افسانه شي نوم به پاتې شي ژوندے د دې

مړه به افسانه شي نوم به پاتې شي ژوندے د دې
وروستو به معلومه شي د شعر نامعلوم قيصه[8, p90]

په يو بل شعر کښې داسې وائي ۔

د افسانې خوارې خفيه شعرونه
د مرګ نه پس به شي قيصو کښې پاتې[8, p131]

لکه څنګه چې مخکښې بيان شوي دي چې د دې قلمي نسخې څه ښکاره نوم نشته خو د شعري مجموعې رديف وار ترتيب الفبائي دے نو څکه ورته د ديوان نوم ورکړے شۀ او بله خبره دا ده چې افسانې ته هم احساس وۀ چې هغه به يو ديوان ترتيب کوي او کومې پنځوس پاڼې ئې چې وړاندې ترتيب ړے وې کومې چې د هغې خاوند سېزلې وې نو هغې ته ئې هم ديوان وئيلے وۀ لکه څنګه چې په بره يو شعر کښې ئې ذکر وشو ۔

## 11 د افسانې په شاعرۍ کښې شعري صنعتونه

د افسانې په شاعرۍ کښې ډېر خوندور شعري صنعتونه موجود دي ۔ د نمونې په توګه دلته په شعر کښې د متل او د تلميحاتو د کارولو بېلګې وړاند کولے شي ۔
په شعر کښې متل:

دا متل دے چې د ګل سره ازغي وي
څکه وي سينه زخمي د عندليب[8, p8]

## 12 په شاعرۍ کښې تلميحات

لکه څنګه چې افسانه وائي چې ما د کلاسيکي ادب نه علاوه د قيصو کتابونه هم لوستي دي نو هم د دې وجې ئې د دغه روماني داستانونو تلميحات په خپل ديوان کښې کارولي دي ۔

افسانې د صنوبر د سپي قیصه ده
د دې ځنې دوست نه ښۀ وي موتي کچ[8, p17]

په دوستۍ د خود غرض چې کوئ نیاز
د جولا د مچ قیصه ده ښۀ اغاز
شاه ګدا په حقیقت کښې مساوات شي
لکه مینه د محمود او د ایاز[8, p31]

هغه مئېن لکه لېلا مجنون ادم درخانۍ
وریپسې ځي که ورته لار وي د چړو په څوکو
د بېستون غرۀ په لمن کښې فرهاد سور په وینو
شیرینۍ ولې کړي خوبونه د پومبو په څوکو[8, p69]

هغه پښتون چې نوابي ئې په قندهار کوله
هغه ملګري رابیعه ګله فتح خان څه شو
هغه شهۍ چې توردل خان د پاره سر ورکړۀ
هغه هم لاړه پهاړ ګله علي خان څه شۀ
هغه نازو چې قطب خان پسې ئې زړۀ وچودۀ
هغه مئېن په ګل مکۍ وۀ موسي خان څۀ شۀ[8, p89]

په خپله شاعرۍ کښې د دې مختلف قسمه تلمیحاتو نه پته لګي چې هغې ډېر روماني داستانونه ښۀ په غور لوستلي وو ۔

## 13 د افسانې په دیوان کښې شعري اصناف

د افسانې په دیوان کښې مختلف شعري صنفونه موجود دي لکه نظم، غزل،قطعه، رباعي، حمد، نعت، مرثیه وغیره ۔ [8, p3] د کربلا د مرثیې یوه نمونه ئې دلته وړاندې کولے شي ۔

حضرت عباس، علي اکبر، علي اصغر نوجوان
امام حسېن شو شهیدان د کربلا په مېدان
یزیده خوار شې دومره ظلم خو چا نۀ دے کړے
تاریخ ګواه دے ستا په ځان د کربلا په مېدان
که جنګ کوې خبر دے یو مشک ابه خو ورکړه کنه
مړۀ شو د تندې ماشومان د کربلا په مېدان
یذیده تا ترې مشران او زلمي قتل کړل ټول
پاتې شو کونډې ماشومان د کربلا په مېدان
هغه دې بوتلل زنځیرونو کښې تړلي شام ته
تاله واله شول دا ګلان د کربلا په مېدان
د حسېن سر دې په نېزه پېئبلے شام ته یوړو
تنه دفن شوه په بیابان د کربلا په مېدان
د مور په غېږ کښې ماشومان د تندې مړۀ شو خدایه
دومره ظلمونه شو عیان د کربلا په مېدان
یو مسافر وو بل د لوږې تندې ظلم جبر
په دغه وخت نۀ وو پاسبان د کربلا په مېدان
زخمي زخمي سوري سوري په غشو د شمر د لاسه
په وینو سرۀ لکه الوان د کربلا په مېدان
قلمه بس کړه دا د غم شعرونه نور مه لیکه
ساني! خفه دے ټول جهان د کربلا په مېدان[8, p61]

د کربلا یوه بله مرثیه هم د هغې په دیوان کښې شامله ده ـ د دې نه علاوه نورې مرثیې ئې هم دیوان کښې موجودې دي ـ

## 14 د افسانې د شاعرۍ موضوعات

لکه چې مخکښې بیان شوي دي چې د هغې ورور هغې ته وئېلي وو چې بهار، خزان، وطن، زمکه، اسمان، غر، ځنګل، بانډه، کلے، ښار، رواج، شریعت، قانون، ملک، قام ، مزدور، ګودر ټول په ادب کښې راوله ـ[8, p3] هم په دې وجه دا ټول موضوعات د افسانې په دیوان کښې شامل دي ـ

افسانې په خپل ژوند کښې ډېرې سختې لیدلې وې او زمانې ورته په مخ ډېرې څپېړې ورکړې وې ـ لکه چې په دې اشعارو کښې ئې اظهار کړے دے ـ

خدایه ما افسانه اوبله خپل ځان ته
ډېر خفه په دې جهان دے زما روح[8, p19]

او یا لکه دا شعر

په کوشش په عقل نۀ شي بې د بخته
بس د وخت څپېړې خوري د افسانې مخ[8, p20]

خو د دې هر څه باوجود افسانې خپله شاعري یوائې د خپلو غمونو او دردونو اظهار ته نه وه وقف کړې بلکې نور کڼ شمېر ټولنیز موضوعات ئې پکښې هم بیان کړي دي ـ

## 15 د پښتو ذکر

د افسانې د دیوان د داخلي شهادتونو نه معلومېږي چې واقعي هغه په پښتو او پښتونولۍ نه صرف پوهېدله بلکې پښتو ئې پالله هم او دغه رنګ هغه د پښتو او د پښتونولۍ په تول پوره یوه درنه پښتنه ښځه وه ـ د هغې په شعرونو کښې د پښتو ژبې سره د مینې محبت ذکر هم په نظر راځي ـ

یم پښتنه پښتو عزت دے زما
پښتو لیکم پښتو زینت دے زما
زۀ پښتنه یم د سرحد باشنده
په تورو غرونو سکونت دے زما
په دغه سخته ژبه نرم لیکل
دا د پښتو شان و شوکت دے زما

پښتو زما د مورو پلار ژبه ده
ځکه پښتو کښې حکایت دے زما
زۀ پښتنه د پښتو ژبو خور یم
د پښتو قال یو امانت دے زما
زۀ افسانه شوم په پښتو لیکلو
پښتو ایمان پښتو غېرت دے زما [8, p74]

هغې ته دا احساس وۀ چې هغه به د مرګ نه وروستو هم یادېږي ځکه چې هغه د پښتو ژبې یوه لیکواله وه ۔ هم په دې سبب هغه د پښتو ژبې سره بې حده مینه ساتي او پښتو ژبې ته خپل ایمان او غېرت وائي ۔

# 16 عدالتي نظام

په سوات کښې چې کله په ۱۹۱۵ کښې یو ریاست جوړ شۀ او بیا د وخت تېرېدلو سره دغه ریاست ترقي وکړه نو د ریاست والیانو په عدالتي نظام کښې هر قسمه اصلاحات وکړل او خلقو ته ئې فوري او ارزان انصاف ورکول یقیني کړي وو خو کله چې د سوات د دغه ریاست انضمام په پاکستان کښې و شۀ نو د نورو محکمو سره سره د انصاف محکمه هم ډېره اغېزمنه شوه او د خلقو مقدمې به په کلونو کلونو نۀ حل کېدلې ۔ د دې نه علاوه پکښې بدې رشوتونه هم شروع شول نوهر چا د دغه نظام نه سر ټکول شروع کړل ۔ هم په دغه سبب افسانې د سوات په عدالتي نظام هم ډېرې نیوکې او ټکونه کړي دي ۔

اے سامعه کېږده غوږ د قلم شور ته
غلے کښېنه فکر مه کوه بل لور ته
که حاجت دې د کېس پېښ شي په دفتر کښې
سر دې ونیسه د دغې ظالم زور ته
مالداران خو ورله پېټ په رېټ چاپي کړي
فېصله کړي حواله د کرسۍ چور ته
چې ئې رېټ په جېب کښې نۀ وي سلام نۀ اخلي
پېښور څه! که اپیل وکړې لاهور ته

د غریب په فېصله حکم د قېد وي
خدایه دغه ظالمان واچوې اور ته
لنډ تاریخ د واړهٔ کېس وي ښوارلس کاله
افسانه به نور څه نهٔ وائي په پورته[8, p73]

په عدالتونو کښې د مقدمو د لېټ کولو او د نورو مسئلو ذکر ئې په دې نظم کښې په ډېر ښکلي انداز سره کړے دے .

## 17 ډاکټران

ډاکټران چې د دردېدلي انسانیت مسیحا ورته وئېلے شي خو کله کله په دوي کښې هم داسې خلق پېدا شي چې هغوي د انسانیت سره هډو څه کار نهٔ ساتي خو ټول فکر ئې مال دولت جمع کولو طرف ته وي . او د داسې قسمه ډاکټرانو هیڅ کمے نشته . ځکه خو افسانې د داسې قسمه ډاکټرانو نقشه دلته بیان کړې ده .

خدایه هیڅ څوک بیمار مه کړې د ډاکټر
ګني وباسي ترې ښرمن دغه کافر
په کرسۍ کښې د سنډه په شانې ناست وي
پېرنه ښټ ئې وي نیولے لکه خر
چرګ، ډوډۍ، شراب ، کباب ئې وي خورلي
د شکم د بوجه ئې نهٔ لګي نظر
فیس پوره دوصد روپۍ د هر چا اخلي
که ګټلي وي غریب ټاټکے په سر
بیا ئې چار د دوائي د پېسو نهٔ وي
د غریبو مریضان مړهٔ شي اکثر
افسانه وائي ژوندون مې په سر بوج دے
داسې دے لکه خالص د ایلم غر[8, p29]

د دې نه پته لګي چې د افسانې هم د خپل غربت په حالت کښې د داسې قسمه ډاکټرانو سره

واسطه راغلې ده او د هغې زړۀ ئې دردولے دے ۔

## 18 مزدور

د افسانې د شاعرۍ نه د هغې د ژوند د قيصې پته لګي چې واقعي ژوند ئې ډېر په سختو او تکليفونو کښې تېر کړے دے ځکه خو ورته د ټولنې د غريبې طبقې د هر وګړي د ژوند د مشکلاتو احساس وۀ ۔ دغه وجه ده چې په خپل يو نظم "مزدور ته" کښې د مزدور شان او عظمت ته ئې پېرزونې وړاندې کړې دي ۔

د هر قدم نه دې قربان شم څو څو شانه
د قام غېرتي ځوانه! د کار نه پخېر راغلې
هر يو قدم دې بختور دے
خدمت د خلقو ستا په سر دے
ستا په خدمت کښې لوئے اثر دے
ستا په همت شوله همه دنيا ودانه
د قام غېرتي ځوانه! د کار نه پخېر راغلې

دا اوږد نظم دے او په مقطع کښې ئې داسې وائي ۔

زۀ افسانه دې همېشه يم ثنا خوانه
د قام غېرتي ځوانه! د کار نه پخېر راغلې[8, p135]

## 19 پښتونخوا

اګر چې افسانه يوه په کور ناسته زنانه وه خو بيا هم هغه د خپل وطن د وسائېلو، مسائېلو او ښائسټونو نه خبر وه ۔ د پښتونخوا د ښائست، معدنياتو او نورو قدرتي وسيلو باره کښې په يوځاے کښې داسې وائي ۔

يو جنت دے پښتونخوا وطن زما
ډېر ښائسته دے د هر چا وطن زما
ځاے په ځاے د زمردو لعلو کان دے

پاک الله کړه سربالا وطن زما
ځنګلات دي، ثمرات دي، شجرات دي
جوړ فردوس دے په دنیا وطن زما
جوار، غنم، وریژې پکښې د حده ډېر دي
مړوي اشنا نا اشنا وطن زما
ډک سیندونه د خوږو ابو بهیږي
خوش ګواره کړه فضا وطن زما
بهادران تورزن زلمي د پښتونخوا دي
نهٔ ویرېږي د بد خواه وطن زما
د ملکونو مهاجر ورته رادرومي
د هر چا دے رهنما وطن زما
افسانې د وطن هر موسم بهار دے
ګلستان دے په رښتیا وطن زما[8, p7]

په یو بل نظم "پښتونخوا" کښې د پښتونخوا وطن سره د مینې اظهار داسې کوي ۔

دا د پښتونخوا وطن زمونږه دل او جان دے
دا فخر افغان دے
دا د پښتونخوا وطن
ښومره دے زیبا وطن
دا مې د بابا وطن
دا مې د نیکه، ماما، کاکا د عظمت شان دے
دا فخر افغان دے

د دې نظم په اخري بند کښې وائي چې زما دا لیکل د پښتنو پېغلو د فخر یو داستان دے ۔

دا د افسانې لیکل

ښۀ د پښتنې ليکل
بل د زمانې ليکل
دا د پښتنو پېغلو د فخر يو داستان دے
دا فخر افغان دے[8, p145]

## 20 د وطن مينه

افسانې که په يو طرف د سوات د ښائستونو ذکر کړے دے او يا ئې د پښتونخوا دښکلاګانو، وسائېلو او معدنياتو ذکر کړے دے او ورسره ئې د مينې څرګندونه کړې ده نو بل طرف ته افسانې په خپله شاعرى کښې وطن سره د خپلې مينې اظهار هم کړے دے ـ لکه د يو نظم شروع ئې داسې کړې ده ـ

مونږ د خپل وطن په سردرو کښې شنۀ طوطيان يو
مونږ د پاکستان يو

د دې نظم په اخري بند کښې په سوات کښې د خپل کلي ذکر ئې داسې کړے دے ـ

زۀ سېده سياله بم سوات کښې مې سکنه ده
نوم مې افسانه ده ځاے مې شاهدره ده
مونږ په دنګو غرونو ځنګلونو کښې شادمان يو
مونږ د پاکستان يو[8, p71

په يو بل نظم کښې ئې داسې وئېلي دي ـ

زما وطنه زۀ به ستا تل خدمتونه کوم
ستا د دشمن سره په توره به جنګونه کوم
که مړ شم هم د زنده باد به اوازونه کوم[8, p84]

# 21 کلي والې جينکۍ

افسانه چونکې يوه ښځه وه او د ښځو په نفسياتو او مسئلو هم پوهه وه نو ځکه ئې په خپله شاعرۍ کښې ډېر په مهارت سره د ښځو د ژوند بيان کړے دے او د هغوي د نفسياتو جائزه ئې اخستې ده ـ هغې چې د کلي او د ښار د جينکو موازنه کړې ده نو د کلي جينکۍ ئې د ښار د جينکو نه غوره ګرځولې دي ـ لکه چې وائي ـ

دا قيصه د کلي والو جينکو ده
د سيالانو عزت مندو دردانو ده
کلي والې چې سحر د خوبه پاڅي
دا قاعده د مشرانو پخوانو ده
مونځ ادا کړي منګي ډک کړي کور جارو کړي
ناشته جوړه کړي ذمه دا د هغو ده
غوجل پاکه کړي ګيا څاورو ته ورکړي
مېخه ولوشي خبره د مزو ده
شوملې وشاربي تياره ترکاري کړي
په تنور ډوډۍ پخې کړي پري رو ده
چې د کور ماحول په دې ډول پوره کړي
ځان سنبال کړي ته به وے لکه خارو ده
په دېوال په دروازه کښې نۀ ودرېږي
ښونه کړې ورته خپلو اولنو ده
خاص پرواه ئې پوزيشن طرف ته نۀ وي
وائي کوخه که د سرو ده خو د خپو ده
په بشره که ښکلې نۀ وي عذر نشته
په نام خرڅه شي وسله د مېړنو ده
هر صفت چې ئې کوم پکښې موجود دے

حياداره هره لور د پښتنو ده
افسانې د کلي والو تعريف وشه
ښار ته راشه دغه هم د اورېدو دے[p79 ,8]

## 22 د ښار جينکۍ

لکه څنګه چې مخکښې بيان شو چې د کلي والو جينکو د ژوند نقشه ئې راښکلې ده نو هم دغه شان د ښار د جينکو د ژوند او د هغوي د نورو عادتونو او نفسياتو ذکر ئې هم ډېر په ښکلي انداز سره سره کړے دے .

راشه واوره وس د ښار د جونو حال
په سرخۍ او په پوډرو وي سنبال
سترګې تورې په کجل کړي سر شانه کړي
شونډې سرې کړي لا په زنه کېږدي خال
نيمه کور نيمه بهر په دروازه کښې
په سرتور سر وي ولاړه په دېوال
يوه ورځ په کور کښې نه کښيني قراره
يا زيارت ئې وي بهانه يا هسپتال
په دوېمه ورځ به زغلي ښاپېرو له
شکرانه که وي پينځلس روپۍ فال
که سړے غريب ټاټکے په سر مزدور وي
د کوځې نه ئې تش نۀ ځي بنګړيوال
که د ټوکو سوداګر کوځې ته راشي
ګاونډي نه پسې قرض کړي په سوال
ګرځېده، خوراک پوشاک د دې پېشه وي
که خاوند ئې د پېسې نه وي کنګال

که پخه روټۍ غوښتل د دې عادت وي
خو د مېک اپ اخستو له ساتي مال
افسانې چې دا ماحول مې دے لیدلے
څکه درج مې کړو دلته قیل و قال[8, p54]

د کلي او د ښار د پېغلو نه علاوه په غرئيزو علاقو کښې چې کومې پېغلې وسېږي د هغوی د نرتوب، غېرت، پاکدامنۍ ئې هم ښکلے منظر پېش کړے دے ۔ د دغه نظم شروع د دې شعر نه کوي ۔

د غرۀ پېغلې په بیدیا کښې پاک لمنې نرې نرې
په فراخه شان فضا کښې رفتار کړي لکه کونترې
نۀ کسب نۀ هنر وي، کم خوراک کم ئې پوشاک وي
ساګ سکړک دوي ته بهتر وي، بیزې ګډې د دوي ژواک وي
په یخ سیوري ناستې پاکې، پاس په لوړه معتبرې
د غرۀ پېغلې په بېدیاکښې، پاک لمنې نرې نرې
یو عجبه نظاره وي ، څروي مېخې غواګانې
لور په لاس کښې ورسره وي، ورله ریبي ګیاګانې
پۍ غوړي سبا بېګا کښې، په مزه مزه خوري نیاز پرورې
د غرۀ پېغلې په بېدیاکښې، پاک لمنې نرې نرې
هړې بړې پوزیشن کړي، په فېشن ئې څه کار نۀ وي
خپله سیمه کښې رفتن کړي، خیال خپوه ئې پکار نۀ وي
سادګانې په حیا کښې، د جدید دور نه لرې
د غرۀ پېغلې په بېدیاکښې، پاک لمنې نرې نرې
دوي په شکل زنانه وي، نور ئې کار وي د مردانو
لور یا تبر ورسره وي، کړي واښۀ لرګي یارانو
په تازه تازه هوا کښې، وي هر بوټي کښې ګورګورې

د غرۀ پېغلې په ښېدياکښې، پاک لمنې نرې نرې
ځي چينو ته لکه زانې، پاس په سر ئې منګوټې وي
شوکوي کوري ممانې، د دوي زړونو کښې مستي وي
د غرۀ لمن چپه چپيا کښې، ځان سره وائي سندرې
د غرۀ پېغلې په ښېدياکښې، پاک لمنې نرې نرې
کش مکش هوا چلېږي، کاڼي بوټي وي خاموشه
پرنده ورو ورو خوځېږي،تماشه وکړه مدهوشه
وي د خاړو چهچها کښې، تاروګان وهي وزرې
د غرۀ پېغلې په ښېدياکښې، پاک لمنې نرې نرې
په يوه يوه کوټه کښې، لرې لرې دوي وسېږي
سپل کوي خوشې مېره کښې، نور د څه نه نۀ خبرېږي
ناخبره په دنيا کښې، افسانه کوي خبرې
د غرۀ پېغلې په ښېدياکښې، پاک لمنې نرې نرې[8, p151]

## 23 کلي واله زندګي

د کلي والو، او د ښار او د غرونو د پېغلو د ذکر نه علاوه هغې د کليوال ژوند يوه عمومي نقشه هم بيان کړې ده ـ په کلي وال ژوند کښې هغې په خصوصي توګه د ښځو او د جينکو د ژوند حالات ذکر کړي دي ـ د کلي وال ژوند په حقله داسې وائي ـ

کلي واله زندګي وي څومره ښکلې
چا مېښې چا غواګانې وي ساتلې
شنۀ فصلونه شنۀ باغونه ډېر لذيذ وي
پکښې الوځي راالوځي بلبلې
روح افزا هوا چلېږي دم په دم کښې

چې تازه وي پرې د هر بنده کاکلې
سوچه پې سوچه غوړي تازه سبزي وي
ټینګې ټینګې شوملې هر چا وي شربلې
جینکۍ قطار قطار ګودر ته درومي
یخې یخې چینې هر ځاے وي بهېدلې
په لیدو ئې د ښار خلق خوشحالیږي
د جبې، کالام، بحرېن کوي منزلې
افسانې پاخه د کور کارونه وران شو
که لیکې، نهٔ پوره کېږي دا غزلې[8, p139]

# 24 ګودر

ګودر په پښتنه ټولنه کښې یو اهم مقام لرلو او هم په دې وجه په پښتو فوکلور کښې هم ګودر یوه اهمه موضوع ده ـ ګودر ته اکثر په مازیګر کښې جینکۍ ابو له ځي او بیا په ګودر کښې خپلې مشغولا ته دوام ورکوي ـ په ګودر د جینکو راټولېدل او مشغولاګانې کول ئې په دې نظم کښې داسې بیان کړي دي ـ

راشه اولیکه کاتبه د ګودر زړهٔ
چې راوېښ به شهٔ د پېغلو مازیګر زړهٔ
دا د تېرې زمانې د ګودر حال دے
چې حصه به پکښې اخسته هر هر زړهٔ
هغه وخت د زمانې داسې رواج وهٔ
د زلمو پېغلو به یو وهٔ د نظر زړهٔ
د ګودر ماځیګرے به جوړ اختر وهٔ
په لیدو به ئې شهٔ نرم د حجر زړهٔ
سور سالو سور منګوټے سور به پېزوان وهٔ

په چارګل به ستړے کړے وۀ زرګر زړۀ
د سوات سیند چپې چپې لکه غر غر وي
د شفق سرخۍ به وګنډو پرهر زړۀ
منګوټې به په ابو کښې ډوب پراته وو
د ناظر به د ګوګله وۀ بهر زړۀ
د سیند غاړه به په جونو رنګینه وه
راګ او ساز به ئې ګهېراو کړۀ د سازګر زړۀ
سپینو ګټو سپینو شګو شین کبل کښې
د مکېز قدم به غوڅ کړه په خنجر زړۀ
توري زلفې سرې لبانې سرې منګولې
سپین نوکونه به ریشمي کړه مازیګر زړۀ
تورنکې خاروکانې سپینې زانې
چورلېدې به په ابو لکه ابتر زړۀ
چنچنکې، توتکې ، سپینې کونترې
شینغاړې به په لامبو کړۀ زورور [3] زړۀ
یا به باګه، یا لنډۍ یا به اتڼ وۀ
تماشو ته به هر چا کړۀ برابر زړۀ
منډې ترړې به شروع وې تر ماښامه
تلې به هله چې به وچودۀ د نمر زړۀ
وې خائسته د سیند د غاړې مازیګره
ستا خوشحاله حال خفه کړۀ د سحر زړۀ
هغه څوک چې په نېکۍ نه قائل کېږي
افسانه به څه ډاډه کړي د منکر زړۀ[8, p85]

---

[3] دا لفظ نه لوستلے کېدلو ـ ما په خپل قیاس د قافیه د سمون په خاطر زورور اولیکلو ـ

## 25 عشقیه شاعري

د افسانې په شاعری کښې د ژوند په هره موضوع څه نه څه په نظر راځي ـ عشق او مینه محبت هم د ژوند یوه برخه ده نو ځکه د هغې په دیوان کښې داسې قسمه موضوعات موندل څه نا اشنا خبره نۀ ده ـ خو دا یوه خبره یاد ساتل پکار دي چې د هغې په ژوند کښې نورې بې شماره مسئلې وې نو دا رنګې شاعري ئې په دیوان کښې کمه ده ـ لکه چې وائي ـ

د سانې شعر خو واړه حقیقت دے
ځنې ځنې که خیالي وي پرواه نشته[8, p76]

لکه پاسني شعر کښې ئې ذکر شوے دے د افسانې په دیوان کښې مجازي عشقیه شاعري هم موجوده ده لکه دا غزل ـ

د ابرو په مینځ کښې تا چې شین خال کېښود
لا زرغون دې په نتکۍ پسې لعل کېښود
سنیاري چارګل دې شمع ده بلېږي
پتنګانو ته دې مرګ په مثال کېښود
شنۀ طوطیان د سردرو دې پکښې بند کړه
تورې زلفې دې خورې په مخ جال کېښود
اثري سترګې دې ډکې د جادو ي
صدقه مې درته نن سرومال کېښود
منګوټے دې په مکېز ګودر ته یوړو
لکه زرکه دې قدم په کمال کېښود
راز د زړۀ دې معلوم نۀ کړۀ څه ساده ئې
په تندي مې درته لاس چې د سوال کېښود
افسانه وائي نۀ پند دے نۀ عبرت دے
دا غزل مې هسې خوشے د خیال کیښود[8, p21]

## 26 د اسلافو ذکر

د افسانې په شعرونو کښې د اسلافو بیان هم راغلے دے لکه په خپله شاعرئ کښې ئې د سوات د پښتو ادب د بانیانو اخوند درویزه او د هغه د اولاد ذکر هم کړے دے ۔ د اخوند درویزه، کریمداد، میا ګل دولت، میا نور او میا مصطفي په حقله داسې وائي ۔

درویزه ځوے د میا اخون ګدا وۀ
وۀ مهمان د اولیاؤ د صحبت
د محبوبې قلعې خوا کښې ئې مزار دے
مسمي په پېښور دے دا ملت
د هغه ځوے اخون میا کریمداد دے
نیکپي خېل کانجو کښې دے د دۀ ګنبت
په تاریخ کښې مورزاده ولي یادېږي
پوره کېږي پرې د هر سړي حاجت
هم عالم وۀ هم ولي وۀ هم شهید شۀ
بل به څوک داسې را نۀ شي تر قیامت
مشر ځوے د اخوند میا کریم داد صاحب
مسمي وۀ په نامه میاګل دولت
نېک سیرته نېک عمله نېک افعال وۀ
له کتابه درته وائم روایت
دویم ځوے ئې میا نور په عظمت پور وۀ
ډک د نور په تجلو د دۀ شوکت
عظیم شان بڼ ئې ولاړ په ادیره دے
د مرحوم په اسلام پور دے سکونت
د میا نور ځوے په نوم میا مصطفي وۀ

چې تاريخ ئې قيصې کړي د شرافت
پشت په پشت باندې دا واړه اوليا دي
که څوک غواړي او دې ګوري کتابت
افسانې دلته پينځه پېړی تحرير شوې
په ليکلو دې خدائے کېږده برکت[8, p13]

ميا کريمداد چې د کانجو په غوث هم يادېږي، د اخوند درويزه ځوے دے او په کانجو کښې دفن دے ، د هغه يادونه ئې په يو بل ځاے کښې په شعر کښې داسې کړې ده ۔

د کانجو په غوث سوال که ئې رب قبول کړي
افسانه به ورله واخلي سور غلاف [8, p46]

د دې شعر نه په قبرونو د سوال کولو د روايت پته هم لګي ۔ د خپل ديوان په اخره کښې ئې په اتو مخونو مشتمله د خپل ژوند قيصه په اجمالي ډول منظومه بيان کړې ده ۔

## 27 معمې يا سوال و جواب

افسانې د خپل ديوان کښې څه معمې يعني سوالونه هم ارکړي دي او ورسره ئې بيا د دغه سوالونو جوابونه هم پخپله ورکړي دي ۔ دې معمو ته ئې د سوال جواب سرخط ورکړے دے ۔ کوم چې لاندې ورکړے شوي دي ۔

دا څه دے چې يو دے نو دوه به نۀ شي په دنيا جواب غواړمه دا
بېشکه الله يو دے دغه سوال چې کړے تا دے جواب ئې واخله دا دے
دا څه دي چې دوه دي نو درې به نۀ شي واوره مانه جواب راکړه اے ځوانه
دا دواړه ورځ او شپه دي دغه سوال دې واوره خانه جواب ئې واخله ما نه
دا څه دي چې درې دي څلور به نۀ شي په دنيا کښې جواب که ما له راکې
کاغذ دے سياهي دے بل قلم دے سوال پوره شۀ جواب درته ښکاره شۀ
دا څه دي چې څلور دي پينځه نه دي نۀ به شي دا سوال که درنه شي
څلور دي کتابونه دغه سوال دې هم اسان دے جواب ئې ښه عيان دے

دا څه دي چې پېنځه دي شپږ به نۀ شي په ژوندون کښې جواب که راته ستون کې
پېنځه خو دي مونځونه دغه سوال چې کړے تا دے جواب درکړے ما دے
دا څه دي چې شپږ دي نو ووۀ به نۀ شي په يو حال جواب راکړه في الحال
دا شپږ دي کليمې چې سوال دې کړے د مطلب دے جواب ئې ډېر عجب دے
دا څه دي چې ووۀ دي اتۀ نۀ دي ځان کړه پويه جواب راکړه نېک خويه
دا څه دي چې اته دي نهه نۀ دي سوال اخر دے جواب ته منتظر دے
اته دي جنتونه دغه سوال زدکړے ما دے جواب ئې ښه ويړيا دے
بس وائي افسانه دا مې ليکلے دے ترتيب که رد نۀ کړي اديب [8, p156]

# 28 نتېجه

په سوات کښې د شلمې صدی په پښتو ادب کښې د ګوتو په شمار يو څو ښځې ليکوالانې او شاعرانې په نظر راځي چې په هغې کښې د افسانې د شاعرۍ خپل يو بېل مقام دے خو د بدقسمتۍ نه د افسانې ديوان لا تر اوسه چاپ نۀ دے ۔ افسانې په مختلفو شعري اصنافو لکه غزل، نظم، قطعه، حمد، نعت، مرثيه وغېره باندې طبع ازمائي کړې ده ۔ د هغې شاعري زياته معروضي ده نو ځکه ئې په نظم کښې کامياب اظهار کړے دے ۔ په تکنيکي لحاظ ئې په شاعرۍ کښې څه کمے زياتے په نظر راځي خو د موضوعاتو فراختيا ئې د ديوان رنګ ډېر ښائسته کړے دے ۔ د ژوند په هره شعبه ئې ليکل کړي دي او هر رنګ ئې په ديوان کښې په نظر راځي ۔ د افسانې د ژوند په باره کښې د نورې څېړنې ضرورت دے او ديوان چاپ کول ئې هم ضروري دي ۔

# Bibliography

[1] Shah Jehan, Pukhto Adab Ke Da Mermano Brakha, Pashto Academy, University of Peshawar, 1993

[2] Muhammad Bin Dawud Hotak, Pata Khazana, Da Pohane Wazarat, Da Dar-ut Talif Reyasat, Kabul, 2nd Edition, 1339H

[3] Rahim Shah Rahim, Ghata Khazana, Mingora, Shoaib Sons Publishers and Bookseller, 2015

[4] Hamesh Khalil, Da Qalam Khawandan, Pashto Academy University of Peshawar, 1999

[5] Kashra Begum, Nimgarray Jwand, Saidu Sharif, Royal Campus, 2000

[6] Kashra Begum, Yaduna, 2008

[7] Mukhtyar Begum, Da Arman Chagha, Mingora, Golden Press, 2005

[8] Afsana, Da Afsane Dewan, Manuscript in Personal Collection of Dr. Muhammad Ali Dina Khel